# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې اوومه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۷مه | ۵۰۳یمه گڼه


# د سولې هڅې او روان قتل عام؛

## هوايي ځواکونو په بلخ کې په یوه برید کې د یوې کورنۍ اووه غړي وژلي



۳


هغه واکمن چې خپل ولس وژني — ۲ مخ

ماضي باید ځوک جبران کړي، طالبان که تړلواله؟ — ۲ مخ

د ملي یووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتېژي — ۳ مخ


## عبدالله: په دولتي ادارو کې د ارگ له خوا روانې گومارنې د منلو نه دي

اجرایه رییس عبدالله عبدالله خبرداری ورکړی، چې نور په دولتي ادارو کې گومارنې ورته د زغم وړ نه دي.

نوموړي ارگ ته خبرداری ورکړی، چې په حکومت کې دې په خپل سر له مقرریو لاس واخلي.

هغه تېره ورځ په سپېدار ماڼۍ کې خبریالانو ته وویل چې د ملي یووالي حکومت د هوکړې پر اساس د حکومت مشروعیت موجود دی او د پایلو تر اعلان پورې به پر ځای وي.

عبدالله زیاته کړې، په دې وروستیو کې چې گومارنې شوې، د ټاکنو وروستۍ پایلې نه دي اعلان شوې، نور د زغم وړ نه دي.

هغه ویلي: «په دې وروستیو کې چې کومې گومارنې شوې، د دې اصل له رعایت پرته چې د ټاکنو وروستۍ پایلې تر اوسه معلومې نه دي، یوه مسئله او بلخوا د ملي وحدت حکومت موافقتنامه پر ځای ده، نن ورځ اعلان کوم که همدا روش همداسې دوام پیدا کړي، نور د زغملو وړ نه دی، موږ لازم اجراأت او اقدامات د قانون او مواقتنامې د پلي کېدو او د نظام د ساتلو لپاره کوو، نور د تحمل وړ نه دی.»

عبدالله تور پورې کړی چې ارگ د هوکړې متن په پام کې نه نیسي او په خپل سر یو اړخیز عمل کوي، چې په دې سره یې د ملي یووالي حکومت هوکړه تر پښو لاندې کړې ده.

عبدالله دغه راز سولې ته په اشارې ویلي چې دوی لا له وړاندې شرط نه ږدي او د سولې په خبرو کې به د افغانستان د خلکو له گټو دفاع وکړي. دا په داسې حال کې ده چې ارگ اوربند د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د یو شرط په توگه اېښی دی.

## تېر میلادي کال په افغانستان کې لسگونو امریکایي سرتېرو ته مرگ ژوبله اوښتې



۵ مخ

هېواد — ۴ مخ

## مالیزیا



مالیزیا د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پرلـه پسې ډېرښت له امله، د آسیا یـو پرمختللی هېـواد بلل کېـږي. پـه دغه هېـواد کـې لـه ۱۵ کلونـو پورته ټـول خلک پر لیـک او لوست پوهیـږي.

## کرنې ریاست: په میدان وردگو کې د چرگانو پنځه زره فارمونه جوړېږي



د میدان وردگو د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې د چرگانو د صنعت د ودې او ساتنې په موخه، سږ کال د دغه ولایت په کچه پنځه زره د غوښنو چرگانو لوی او واړه فارمونه جوړېږي.

د دغه ولایت د کرنې رییس ولید احمد تسل له رسنیو سره په خبره کې ویلي، چې د دغو فارمونو ۶۰ سلنه پیسې د کرنې وزارت او ۴۰ سلنه یې د پانگه والو له لوري ورکول کېږي.

تسل دغه راز زیاته کړې چې یاد فارمونه به د کورنیو او په ځانگړې ډول د مېرمنو په اقتصاد کې د پام وړ رول ولوبوي.

نوموړي ویلي چې دوی هڅه کوي څو له دې لارې په دغه ولایت کې د بېوزلو کورنیو لاسنیوی وکړي او له بلې خوا د یاد ولایت خلکو ته هم په دې برخه کې کاري زمینې برابرې کړي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د وردگو د کرنې ریاست په دغه ولایت کې یاد فارمونه پرانیستي وو.

## سیاسیون: طرح مصالحهٔ ملی را برای پیشبرد روند صلح آماده کرده‌ایم



گروهی از مقام‌های پیشین و سیاست‌گران کشور «طرح مصالحه ملی» را برای پیش‌برد گفت‌وگوهای صلح آماده ساخته‌اند.

شماری از کسانی که این طرح را ساخته‌اند، می‌گویند که نهاد «جامعهٔ قلب آسیا» این طرح را پس از رأی‌زنی‌ها با رهبران سیاسی، سیاست‌گران و نهادهای جامعه مدنی آماده ساخته‌اند.

اعضای این نهاد می‌گویند که حکومت افغانستان، احزاب و جریان‌های سیاسی کشور می‌توانند بربنیاد این طرح با طالبان بنشینند و گفت‌وگوهای صلح را به پیش ببرند.

این سیاست‌گران، می‌گویند که اکنون در انتظار رئیس‌جمهور غنی استند تا دربارهٔ این طرح با آن‌ها رأی‌زنی کنند.

سید اسحق گیلانی، یکی از تهیه‌کننده‌گان طرح مصالحه ملی در این باره گفت: «طرحی را که با دوستان آماده کرده‌ایم، از طرف دفتر «قلب آسیا» که یک دفتر کاملاً مستقل است و کلیات آن این است که تمام طرف‌های درگیر جنگ باید نماینده‌گی از افغانان کنند و در مذاکرات بین‌الافغانی در مقابل طالبان، همین گروپ نشسته باشند.»

این سیاست‌گران می‌گویند که با تمامی رهبران سیاسی، نهادهای جامعه مدنی و سیاست‌گران کشور مشوره کرده‌اند.

به گفتهٔ آنان، سلام رحیمی، وزیر دولت در امور صلح و حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور نیز چند بار با آنان دیده‌اند، اما با وجودی که سیاست‌گران، خواهان دیدار با رئیس‌جمهور نیز شده‌اند، تاکنون رئیس‌جمهور با آنان ندیده‌است.


Aksos Book Stote

اکسوس کتاب‌پلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

Aksos Book Store

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

0798-98-9696, 0202504652

دریـــځ

## هغه واکمن چې خپل ولس وژني

وږمه شپه ګډو ځواکونو د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې عملیات کړي او د بوکې په کلي کې يې په هوايي برید کې د يوې کورنۍ اووه ملکي وګړي شهيدان کړي دي. په شهيدانو کې درې ماشومان، ښځې او نور بې ګناه وګړي شامل دي. حکومتي چارواکو تر پرون پورې نه منله چې ملکيان يې وژلي، دفاع وزارت د څېړنو خبره کوي، خو وايي، ملکيان د طالبانو په توغول شوي هاوان کې شهيدان شوي. د سيمې خلک بيا وايي، بريد ګډو ځواکونو کړی دی. په ولسي جرګه کې د بلخ د خلکو استازی هم چې پرون د قربانيانو له کورنيو سره و، وايي چې بريد ګډو ځواکونو کړی او دوی به يې په شدت سره پوښتنه کوي. په ټولنيزو رسنيو کې د قربانيانو جسدونه او د کورنۍ د يوازيني پاتې شوي سپين ږيري زړه بوږنوونکي تصويرونه خپرېږي.

دا نه لومړنی هوايي بريد دی او نه هم وروستنی، چې پکې ملکي وګړي وژل کېږي. بهرنيو او ګډو ځواکونو بيا بيا د خلکو پر کورونو هوايي بريدونه کړي، ښځې، ماشومان او نور بې ګناه وګړي يې وژلي دي. دوی وروسته هڅه کړې چې دا وحشتونه پټ کړي او يا يې هم بل ډول وښيي، خو د دوی وحشت افشا شوی دی. له افشا وروسته يې د څېړنو خبره کړې او پلاوي يې ټاکلي، خو هېڅکله نه د څېړنو پايلې راغلې او نه هم له قاتلينو پوښتل شوي چې ښځې او ماشومان يې ولې وژلي دي. د بلخ وروستۍ پېښه له دې امله هم حيرانوونکې ده چې سيمه د حکومت تر کنټرول لاندې ده. د حکومت تر کنټرول لاندې سيمه کې شپني عمليات ولې وشي، بيا هوايي بريدونه او بمبارۍ ولې وشي او هغه هم د ملکي وګړو پر کورونو باندې؟! دا يوازې وحشت او جنايت دی چې په هېڅ ډول نه توجيه کېږي.

په واقعيت کې اوسني واکمن له خپلو خلکو سره په جګړه کې دي. دوی خپل ولس وژني او هر افغان ورته خپل دښمن ښکاري. دوی د دې ولس د ارزښتونو او ارمانونو پر ضد ولاړ دي. دوی ته د دې وطن، ښځه، ماشوم، سپين ږيری او بل هر وګړی مهم نه دی. دوی ته يوازې خپلې شخصي ګټې، د ټرمپ رضا او هغه نارينه او ښځې مهمې دي چې د دې وطن د دين، کلتور او ارزښتونو پر خلاف ولاړ دي. له همدې امله پر هغو ښځو بمونه غورځوي چې د دې وطن پر کلتور سمبالې دي او هغه خلک وژني چې د دوی په شان فکر نه کوي. اوسني واکمن له خپلو خلکو سره په دښمنۍ کې د خلکو د سترې هيلې او غوښتنې (سولې) مخالفت کوي، خنډونه جوړوي او غواړي د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وګړو وحشيانه وژل همداسې دوام وکړي. اوسني واکمن بايد پوه شي چې د دوی ورکه راغلې ده. هغوی چې خپل ولس وژني، د خپل ولس د ارزښتونو او ګټو پر ضد ولاړ وي، بايد پوه شي چې زوال يې حتمي دی. خلک د دوی پر ضد ولاړ دي، خپل ارزښتونه ساتي او د خپلو ښځو او ماشومانو د وينو درناوی کوي. له همدې امله د دغو ولس دښمنه واکمنو ټغر ور ټولوي او خپل هېواد به له دې وحشتونو خلاصوي.

# ماضي باید څوک جبران کړي، طالبان که ټلواله؟

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

تاریخ په یاد نه لري چې پر ځان بسیا ملتونو دې د تاریخ جبران چې د ځان جوړونې او ټولنیز سمون خبره ده، د ماضي په پیغور ګرځولو، د افتراه، تهمت او کینې په راسپړلو او په ټوله کې د غرضي عقدو، فردي انګیرنو، سیاسي تړاوونو او جغرافیایي، ژبني او قومي تضادونو د لیدلورو پر بنسټ ارزولي وي.

هغه چې د دې حساسیتونو او زوړپاله لیدلوري پایله بیا دومره ترخه او نه څکونکې وي، چې د ماضي د جبران پر ځای، د مخ پر ودې هېوادونو ـ ملتونو تاریخي دوام له کړکېچ سره مخ کوي.

د بېلګې په توګه، په یوه سیمه ییز ائتلاف کې د اماراتو او قطر د ماضي کړکېچ، په پاکستان کې د پنجابي ځانغوښتونکې هژمونۍ پر بنسټ د پنجابیانو او سیندیانو د ماضي لانجه، د پنجابیانو او بلوڅو ـ پښتنو د ماضي خبره او یا تر دې ټولو پاروونکې او مشهوره یې په هند کې د اسلامي یرغلونو او حکومتونو له مهاله تر ننه د هندوانو او مسلمانانو د ماضي تریخ ټکر چې هندوان بومي مسلمان شوي هندیان پر دې ملامتوي، چې دوی د دې سبب شول څو د وخت مسلمان یرغلونه په هند کې د ځان لپاره د پښو اېښودو ځای پیدا کړي او تر دې لا ګواښوونکې دا چې لکه د بابري جومات هندوان مسلمانان د خپلو مذهبي ځایونو او عبادت خونو په مذهبي بدلون پړه بولي، هغه چې ډېر کله دغو ستونزو د هندیانو او مسلمانانو تر منځ په داسې حال کې تودې دي، چې هند نن د نړۍ یو پرمختللی اقتصاد او نظام لري، مګر د ملت جوړونې په برخه کې د یوه واحد ملت تعریف لاپکې ورک ښکاري. دا ځکه چې په هندي ټولنه کې پر ټولو پرمختګونو او لاس ته راوړنو سربېره، د ماضي د جبران بحث لا حل شوی نه ښکاري او سیاسي ګوندونه بیا له دغسې خړو اوبو سیاسي قدرت ته د رسېدو په لار کې بې دریغه استفاده کوي.

افغانستان؛ څوک باید ماضي جبیره کړي (طالبان که ټلواله؟)

تېره اونۍ په کابل کې د سولې او جګړې څېړنو انستېټیوټ د سولې په برخه کې یوه نظر پوښتنه خپره کړه.

دې ناستې ته د بېلو افکارو او تړاوونو شخصیتونه رابلل شوي وو، چې د نظار شوراه د جاسوسانو جګړې مخکښ، د ټلوېزیون تېپې مشهور چریک، د تنظیمي انارشېزم استازی او د امریکا د دوو لسیزو یرغل او افغان وژنې افراطي مدافع لوبغاړي امرالله صالح هم وربلل شوی و.

صالح د دولت جوړوونکي ټیم د مرستیال له دریځه په دغه ناسته کې په داسې حال کې چې د افغان ـ امریکا جګړې په برخه کې د طالبانو او امریکایي اړخ تر منځ رغوونکي او یوې هوکړې ته رسېدونکي ګامونه اخیستل شوي او افغانان پرته له ځانګړې سیمې، قام او ژبې له دې ناروا او تپلې جګړې څخه خپله ستړیا او کرکه ښیي، نو داسې مهال د صالح له لوري د جغرافیایي بېلتون، زړو عقدو او سیاسي نفاق اچولو په تړاو تونډلاري دریځونه ښودل او د ماضي د جبران په برخه کې د تېر څه باندې څلورو لسیزو ناخوښو خبرو یادونه او بیا د پیغور او غچ په هڅونې سره له سولې سره دښمني ته چې د رواني افغان وژنې د دوام اصلي عامل او د لوی افغانستان د دښمنانو پنجاب، پرنګ، چنګیز او تزار پالیسي ده، غندو او د جاسوسانو د جګړې دې مخکښ صالح ته د نوموړي او د دې ډلې د سیاسي مانوفېسټ د څو غیري انساني کردارونو یادونه یې لازمه ګڼو.

۱.د پېښور د نمک منډیې د سپوږمۍ هوټل ته ورڅېرمه دوکانونه چې د پنجشیر د زمرودو او د بدخشان د لاجوردو پریمانه لیلام مارکېټ و، دغه ګران ارزښت کانې چا د چا د واک له سیمې بهر ته په چور او تالان سره یوړل او ایا د دغې ملي شتمنۍ د چور او تالان پړه د ښاغلي صالح سلفو مشرانو نظار شوراه او قومندان مسعود ته نه ګرځي.

۲. جنرال ضیاءالحق چې د وخت د افغان حکومتونو په ماتولو کې د نړیوالو ځارګرو او یرغلګرو ځواکونو استازی و، د نوموړي تر وژل کېدو وروسته طالبانو که استاد رباني د کابل د پل خشتي جامع جومات د ضیاءالحق په نامه د نومولو نیت لرلو، اوس د دې ابن غلام کردار تعریف څوک څنګه کولای شي او ایا دې خلکو له پنجاب سره کله هم خپلې اړیکې سپینې او تعریف کړې.

۳.د ۱۹۹۲ ز کال د مې په ۲۴مه پاکستانۍ فرنټیر پسټ ورځپاڼې یو رپوټ خپور کړ چې په هغه کې د آی اس آی مشر جنرال حمیدګل کابل ته د استاد رباني د دولت له لوري بلل شوی او د نظار شورا حکومت ورته د حسن نیت په موخه په پاکستان کې د ډاکټر نجیب د حکومت هغه پټ اسناد ورکړي، چې ښيي د نجیب حکومت په پنجاب کې ځینې موخې د ځانګړو پاکستاني کړیو پر مټ د افغان ملي امنیت د لومړیتوبونو پر بنسټ مخته وړې.

اوس د یوه هېواد له لوري د هغه هېواد د ملي امنیت د پټو اسنادو ورکول بل دښمن هېواد ته د صالح د پاکستاني ضد لیدلورو پر بنسټ ایا ملي خیانت، له پنجاب سره بې شرمانه دوستي او په ټوله کې د غلامۍ انتها نه ښیي او کله هم دې ښاغلو د خپلو دغو رسوا اړیکو څرنګوالی تعریف نه کړ او ایا له افغان ولس څخه یې په دې برخه کې لږ تر لږه کومه بښنه هم نه ده غوښتې. دا خو پرېږده چې له شوروي سره د پروټوکولونو، هغه د کورنیو جګړو پر مهال له روسیې او ایران سره استخباراتي اړیکې او حتی هغه د چترال له لارې د آی اس آی مرستې هم تعریف کړې او ولس ته پکې سپیناوی ورکړي.

۴. همدارنګه صالح طالب ته د ماضي د جګړو پیغور ورکړ او طالبان یې له سولې وروسته په افغانستان کې د سیاسي مانوفېسټ پر نه لرلو تورن کړل.

مونږ که له صالح سره د نوموړي دا خبره هم ومنو، نو ایا اوسني حالت چې یرغل، افغان وژنه او شاته تګ دی، د دې حالت مسوول پرون او نن صالح او ډله یې نه وه؟ د بېلګې په توګه، هغه د کابل جنګونه، هغه د فرخار او بدخشان قتلونه او هغه د ټول شمال جنګونه چا کړي؟ د کابل د دارالمجانین د لیونو معصوم حرمتونه ستاسو لنډغرو او وحشي ملېشو ورمات کړل. که طالب په ۱۹۷۲ ز کال کې د تنظیمي جګړو عامل، د حل او عقد د شورا له لوري د واک انحصار او بیا له همدې فتنې د نظار شورا او قومندان مسعود ملاتړ او د واک پر سر د مجاهدینو له ټولو ډلو سره د قوم، ژبې او سیمې پر بنسټ جګړه د کوم افغانستان، ویاړ، ابادۍ، ملتپالنې، سیاسي مانوفېسټ او ملت جوړونه وه، په ۱۳۷۱ لمریز کال کې د کابل په افشارو کې د سلګونو هزاره افغانانو قتل عام یوازې په دې ګناه و چې ولې عبدالعلي مزاري د رباني د واک انحصار نه منلو او د خپل قوم حق یې غوښت، د کوم سیاسي مانوفېسټ، انسانیت، عرفانپالنې او اسلامیت پر بنسټ وو، چې تا او همفکرانو دې د ټلوېزیون له تېپې څخه په ړندو توپونو غلبیل غلبیل کړل، همدارنګه چا له امریکایانو د پښتنو پر کلیو او بانډو د B52 امریکایي تیارو څخه د غټو غټو بمونو د غورځولو غوښتنه وکړه. همدارنګه ایا همدا تا امرالله صالح چې د امریکا له یرغل سره دې نیکټایي غاړې ته کړه، د ملي امنیت تر چتر لاندې زرګونه بېوزله افغانان شکنجه نه کړل؟ د(خاد) د پولیګون کیسې یې ونه خندولې؟ پښتانه دې په ږیره، لنګۍ، کالو او پښتو ویلو ونه ځورول او زندانونه مو پرې ډک نه کړل؟ د عزیز اباد په څېر چې ۹۹ پښتانه ستا د ریاست پر مهال د یوه غلط راپور له امله قتل شول، ایا لسګونه او سلګونه داسې تراژیدۍ مو رامنځ ته نه کړې؟ په دې کې تاسو د کوم افغانستان، یووالي، افغان ژغورنې او بیا راتلونکي کهول ته د سیاسي مانوفېسټ پیغام لرئ؟

۵. صالح طالبان د ډاکټر نجیب الله، عبدالعلي مزاري او نورو متنازعو سیاستوالو پر وژلو تورن کړل او په دې برخه کې یې د هغه وخت د واقعیتونو او دا چې رښتیا څه دي، له بحث څخه تېر شو.

که چا د ډاکټر نجیب الله د حکومت حالت لیدلی او یا په سم ډول مطالعه کړی وي، نو هغوی پوهېږي چې ډاکټر نجیب د وژلو ټول شرایط د نظار شورا د عواملو او په ځانګړې توګه د قومندان مسعود له لوري چمتو شوي وو، مګر یوازې د دار رسۍ او پر مرۍ یې د چاړې کشول پاتې وو.

د بېلګې په توګه، د ډاکټر نجیب الله د ناسکه ورور د یادابښتونو او د پیریانو جګړې کتاب د روایاتو پر بنسټ، د وخت ولسمشر ځوځله غوښتل چې له هېواده بهر شي، مګر قومندان مسعود اجازه نه ورکوله او په زور سره د ملګرو ملتونو په دفتر کې ساتل کېده. ستې کول زیاتوي چې کله ډاکټر نجیب الله پو شو چې مسعود یې د مرموز مرګ پلان لري، نو یوځل یې د خپلو ملګرو پر مټ ځان تر هوایي میدانه هم ورساوه، مګر کله چې مسعود پرې خبر شو، نو ویې نیو او وروسته له هغه یې د یونما پر دفتر امنیتي تدابیر لا زیات کړل.

د دې تر څنګ، د عبدالعلي مزاري له کابل څخه د تېښتې او بیا د ناپېژاندو طالبانو لاس ته د هغه لوېدل او وژنه هسې یوه سهوي پېښه وه، ځکه که طالبانو خپل دښمنان وژلی، نو تورن اسماعیل خان چې پر هلمند، هرات او فراه کې یې له طالبانو سره خطرناکې جګړې وکړې او سلګونه طالبان یې وژلي وو، ژوندی به یې نه پرېښود.

د مزاري کیسه او د مرګ اصلي لامل نظار شورا او په ځانګړې توګه د صالح د سترګو تور مسعود و چې په افشارو کې یې ډله او قوم د نژاد او مذهب پر بنسټ وربمبارد کړل.

پر مزاري یې د ایران د جاسوسۍ تورونه ولګول او د کابل لوېدیځه برخه یې د صالح د عرفان، افغانیت او سیاسي مانوفېسټ پر خلاف په ورځو او میاشتو محاصره کړې وه، بمبارد یې پرې کاوه، له دریو خواوو یې قوم ور ووژلو او حتی د اسلامي باور او ملي ـ افغاني غیرت، دود او رواج خلاف یې پرې خوراکي توکي هم بند کړي وو، دلته سیاسي مانوفېسټ، عرفانیت او انسانیت چېرته وو؟

٦. تر ټولو جالبه لا دا چې صالح طالبان تورن کړل چې افغانستان یې د تروریزم پر ځاله بدل کړ او د یوه عرب په بدل کې یې پوره هېواد قرباني کړ.

لومړی داچې دا ښاغلي باید اعتراف وکړي چې اسامه بن لادن په ۱۹۹٦ ز کال کې د استاد رباني او سیاف په بلنه، د افغان اریانا په ځانګړې الوتکه کې د سوډان له پلازمېنې خرطوم څخه اماراتو او بیا د جلال اباد د خالص صیب فامیلیو ته په لوی لاس ولیږدول شو، هغه چې په دې اړوند ستاسو ګرځنده جهادي حکومت، امریکا، سوډان، ایران او اماراتو لا له وړاندې هوکړه کړې وه او ستاسو او سیاف ګټه پکې د افغانستان ملي ګټې نه؛ بلکې د اسامه په پیخرو ثروت و.

کوم چې د دې حقیقت ښه بېلګه د سیاف د مرستیال احمدشاه احمدزي له لوري په کابل کې د القاعدې تنظیم مشرانو ته په دوو میلیونو ډالرو د کورونو پیرل او بیا هم د هغو پیسو او کورونو پر سر د سیاف او احمدشاه احمدزي تر منځ ټکر او جرګې وې.

پر همدې بنسټ، القاعده او اسامه ستاسو پخواني پارټیزان او ملاتړي وو او افغانستان ته د بیا راوستلو سبب یې هم تاسې او سلف مو وو، نه طالبان.

۷. د دې تر څنګ، صالح طالبان چلېنج کړل چې اوس په کابل کې نږدې اووه میلیونه خلک اوسیږي، ولې ستاسو په واکمنۍ کې دا شمیر تر شپږو سوو زرو نه پورته کېده.

په دې اړوند هم نه صالح تاریخ جعل کولای شي او نه هغه حقیقت تحریفولای شي چې افغان ولس د سر په سترګو لیدلی، لمس کړی او یوه نه جبرانېدونکې بیه یې ورڅخه اخیستې، ځکه د کابل د جګړو اصلي عاملان د نظار شورا وه چې لومړی یې له جهادي تنظیمونو سره د مخکنیو توافقاتو پر خلاف پر سیاسي قدرت خېټه واچوله او وروسته یې د قدرت لپاره له ټولو تنظیمونو سره د قوم، ژبې، نژاد، سمت او مذهب په نامه یوه ناروا جګړه پیل کړله، هغه چې پایله یې د کابل ورانې، له کابله د لومړي ځل لپاره د ټولو کابلیانو وتل، په لومړي ځل د کابل سراسري چور او تالان او دا لړۍ د یوې ناروا جګړې تر وروستۍ جنایي وحشتکارۍ چې هغه په بېلابېلو ډولونو او ښو د افغانانو وژل وو، هم اختراع کړل.

۸. د افغانستان د تجزیې، قومي وېشنې، تعصب او د افغانستان شمالي او جنوبي بلل او په ټوله کې د ملک الطوایفي واکمنۍ فتنه هم د نظار شورا د مفکرینو او نظریاتو پایله وه، هغه چې د یوه مشهو روایت پر بنسټ، کله چې د نظار شورا د ملېشو له لوري کابل ونیول شو، نو د افغانستان بانک پر دېوال یې د طاهر بدخشي دا شعار ولیکو چې: «اخرین میخ رابر تابوت آپارتاید پشتونیزم کوبیدیم» حال دا چې د طالب په پنځه کلنه واکمنۍ کې به هېڅ داسې کردار ونه ګورې چې له هغه څخه د عصبیت له ډولونو څخه لږ تر لږه یو هم لیدل شوی وي.

همدارنګه د صالح خبرې درې نورې موخې هم لرلی شي، چې یو یې د مسعود او ټلوالې باوره خلکو ته د خپل فکري ثبات او له سرو کرښو څخه د نه تېرېدو یادونه وه، ځکه لوی شمېر تاجکان باور لري چې صالح معامله وکړله، صالح به د غني په حکومت کې هېڅ واک ونه لري. دویم دا چې صالح غواړي د کرکه پاروونکو خبرو او د نظار شورا تنظیمي سیاستونو ته د ژمنتیا او وفادارۍ له لارې که ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي، نو د تاجکانو سنتي رایه چې تر ننه ډاکتر عبدالله ته ځي، هم راخپله او له دې لارې واک ته له رسېدو وروسته، په ټلواله کې ځان ته د رهبرۍ پښه خلاصه کړي. درېیم داچې نه د صالح خبرې په حقیقت کې د غني طرحه، لیدلوری او دریځ دی، کوم چې سوله پرې سبوتاژ کړې، د طالبانو هغه برې من دریځ د سیاست او جګړې په ډګر کې تیاره وښیي، بهرنیانو ته د خپل تونډلاري لیدلوري له لارې خپله ژمنتیا ثابته کړي او په ټوله کې د معاملې په ډګر کې لږ تر لږه څه ور ورسېږي.

مګر صالح باید پو شي چې ولس ستاسو د پرون او نن کردار له یاده نه دی ویستلی، تاسې پرون هم دې ملت ته ښه ورځ نه ده ورکړې نن هم، تاسې نه شی کولای او دا ممکنه نه ده چې له افغانستان او افغان انسان سره کړې خیانتونه او جنایتونه مو امریکایي تاړاک ته د چوپړ په برخه کې د چا له یاده ووځي، تاسو نه له کرزي سره دوستي وکړله او تر دا پرونه پورې مو ډاکتر غني ادم بې ریښې، له غربه راغلی، بې ولسه او پر افغانستان نه باورمن بللو، په ټوله کې امرالله صالح او نور ټول په امریکایي ویټامینو رالوی شوي او چاغ شوي د یوه توري، انارشېستي او د فتنې د دور محصول او استازي دي.

داسمه ده چې دوی ږیرې وخرېیلې، غربي لباس یې پر تن او د ژوند اروپایي سلیقه یې خپله کړله، مګر دوی هېڅکله د انارشېزم، جګړه مارۍ، سیاسي سقاویزم، توپیر، غچ او انحصار له شخصیت څخه ځانونه را بهر نه کړل. د دوی ننۍ د سولې خلاف ژبه هم هغه د تنظیمي جګړو د قومندان ژبه ده، د سولې د تخریب او نفاق ژبه ده، نو د داسې چا چې ماضي، حال او راتلونکی د جګړې پر دوام راڅرخي، نو هغه مونږ ته د کومې ماضي د جبران وايي، پر همدې بنسټ هیله لرو چې دوی خپل ماضي کردارونه مطالعه کړي، بیا د نورو د ماضي او په ملي مسلو کې د نظر ورکولو اخلاقي جرئت وکړي.

زه باوري یم چې هغه وخت نږدې دی چې د دې خلکو منزوي کول، پوښتل، حساب ورسره کول ملي مسوولیت او دنده وګرځي.

# د ملي يووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتيا او ستراتېژي (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

لیکنه: عمران زکريا

وروستۍ برخه:

د مسکو د افغان سولې پروسې ارزونه

مسکو ته د افغان طالبانو له رابللو وړاندې، روسيې د ۲۰۱۶ز کال په ډسمبر کې د روسيې، چين او پاکستان درې اړخيزه ناسته پيل کړه؛ خو د افغان حکومت چارواکو له خوا توند غبرګون وښودل شو، چې روسيه غواړي افغان حکومت څنډې ته کړي او دغه راز د افغانستان په کورنيو مسايلو کې هم لاسوهنې کوي. د افغان حکومت د توند غبرګون او نيوکو له کبله روسيې يو ځل بيا د ۲۰۱۷ز کال په فبرورۍ کې د شپږو هېوادونو د استازو په ګډون، د افغان حکومت استازي هم راوغوښتل او پر افغان سولې يې ټينګار وکړ. له يادې ناستې داسې په ډاګه کېږي، چې روسيه د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د موازنې ستراتېژۍ ته غېږ پرانيستې او هڅه کوي چې له دې لارې د شخړې په حل کولو کې خپل اغېز پراخ کړي. له دې ناستې دوې مياشتې وروسته، روسيې د ۲۰۱۷ز کال د اپرېل په مياشت کې د افغانستان په تړاو د ۱۱ هېوادونو يوه بله ناسته هم چمتو کړه. د مسکو په دغه پروسه کې د ۱۱ هېوادونو ګډون (د منځنۍ اسيا هېوادونو، ايران، هندوستان او افغانستان) دا په ډاګه کوي، چې د مسکو له لوري له طالبانو سره د همکارۍ ستراتېژي ځانګړې اغېزه لري او د سيمه ييزو ملګرو له لوري پر رسميت پېژندل شوې.

دغه راز، وروسته روسيې په مسکو کې د افغان سياسي ګروپونو تر منځ د خبرو اترو زمينه هم برابره کړه، څو د افغانستان امنيتي او سياسي وضعيت په اړه يوې ځانګړې اجماع ته سره ورسېږي. له دې غونډې د روسيې دوې اساسي موخې وې:

لومړی- دا چې امريکا او طالبان د خبرو په جريان کې دي او روسيه په مسکو کې افغان سياسي ګروپونه د خبرو لپاره راغواړي، داسې په ډاګه کوي چې روسيه د امريکا له وتلو وروسته د افغانستان د وضعيت په اړه اندېښنه لري او روسيه باوري ده، چې له طالبانو سره له خبرو پرته سوله ناشونې ده، نو ځکه روسيه په لومړي ګام کې طالبان په افغانستان کې د يو پياوړي سياسي لوبغاړي په توګه پېژني، څو په راتلونکي کې په افغان سوله کې رغنده رول ولوبوي.

دويم- په چټکۍ سره له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل، هېواد ته خطر اړولی شي، نو سوله هغه مهال په افغانستان کې راتلای شي، کله چې د افغانستان د راتلونکي په تړاو واک په خپله د افغانانو په لاسونو کې وي. له دې لارې نه يوازې دا چې د افغانستان؛ بلکې د ګاونډيو هېوادونو لپاره هم ثبات شونی دی؛ نو روسان پر دې باوري دي، چې د افغانستان په اړه په روسيه کې د داسې مجلسونو جوړول يوازې او يوازې همدا موخه لري.

ځينې ليکوالان ادعا کوي چې د افغانستان شخړې په حل کولو کې کېدای شي دا هم مرسته وکړي، چې امريکا دې په خپله ډيپلوماټيکه کړنلاره کې بدلون راولي. په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې په موخه د امريکا اوسنۍ هڅې د منځګړې په توګه تمرکز کوي. ليکوالان وړانديز کوي، د سولې په موخه ګټوره کړنلاره به دا وي، چې امريکا دې د افغانستان د سولې په مسئله کې شپږ ګاونډيان او نور سيمه ييز لوبغاړي لکه روسيه، هند، اروپايي اتحاديه ښکېل کړي، څو د هېواد په راتلونکي کې رول ولري.

د روسيې حکومت د افغان سولې په موخه ګام په ګام خپله ډيپلوماټيکه ښکېلتيا پر مخ وړي، څو پر طالبانو د خپل زياتېدونکي نفوذ او له تماسونو په ګټې اخيستنې سره د سولې پروسه مخ ته يوسي. په بل اړخ کې مسکو ته د طالبانو د تګ او ګډون هدف هم يوازې دا نه و، چې د سولې په خبرو کې دې ګډون وکړي، بلکې دا هم و، څو واشنګټن ته په ډاګه کړي چې که امريکا د سولې خبرو ته چمتو نه وي، نو طالبان نور غوراوي هم لري چې هغه روسيه ده، څو له دې لارې سياسي او پوځي ملاتړ تر لاسه کړي.

پايله

روسان تر ډېره بريده په افغانستان کې له روان وضعيته په ځانګړي ډول ناامنۍ وېره لري. په افغانستان کې لوېديځ او روسيه مشترکې ګټې لري، خو همکاري بيا د ځينو نورو سيمه ييزو مسايلو لکه اوکراين او سوريې له امله قرباني کېږي.

په دې وروستيو کې د مسکو او کابل په اړيکو کې اندېښنې په زياتېدو دي. دا چې په دې وروستيو کې د سولې په پروسه کې روسيې د افغان حکومت د اپوزېسيون سياسي څېرې ځان ته رانږدې کړي او د سولې په پروسه کې يې د حکومت له استازو پرته طالبان ښکېل کړي دي، نو دا به په راتلونکي کې د کابل او مسکو اړيکې نورې هم سړې کړي.

له همدې ځايه په هغه کچه چې د ولسمشر غني په دوره کې له سعودي عربستان، چين او د سيمې له ځينو نورو هېوادونو سره اړيکې پراخې شوې، د سيمې له ستر قدرت روسيې سره هومره پراخې نه شوې، په ځانګړي ډول کله چې په دې وروستيو کې روسيې په خپله مشرتابه او کوربه‌توب د افغان سولې په موخه په مسکو کې ځينې سيمه ييز کنفرانسونه راوبلل، چې تر ډېره بريده د افغان دولت په ناخوښۍ تمام شول.

په مسکو کې د افغان د سولې په اړه تر سره شوې غونډې که څه هم تر دې دمه کومه ځانګړې پايله نه ده لرلې، خو روسيه يو ځل بيا غواړي چې په افغانستان کې د يو مهم يا ستر لوبغاړي په توګه ځان راڅرګند کړي. له بل لوري ياد کنفرانسونه د طالبانو لپاره هم ګټور تماميږي، ځکه د لومړي ځل لپاره د دوی استازو په داسې ناستو کې ګډون وکړ، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د دايمي غړي يانې روسيې له لوري تنظيم شوي وو.

روسيه د افغانستان د سولې په پروسه کې هڅه کوي څو يو فعال رول ولوبوي چېرته چې د سيمې او نړۍ د زبرځواکو هېوادونو ګټې نغښتې دي. په افغانستان کې د روسيې د سولې هڅې له امريکا سره له ملګرتيا پرته نه شي بريالي کېدلای، ځکه امريکا په افغانستان کې پوځي شتون لري او د موجوده حکومت ملاتړ هم کوي. د طالبانو مشرتابه هم پر دې پوهېږي، چې د روسيې د سولې هڅې د امريکا له ګډون پرته بريالۍ نه ښکاري، نو ځکه طالبان هم چمتو دي چې له امريکايانو سره د سولې مخامخ خبرې پر مخ بوځي.

په هره اندازه چې د افغانستان ثبات له خطر سره مخ کېږي، هومره د روسيې مداخلې ته زمينه چمتو کېږي، ځکه بې ثباته افغانستان د روسيې ګټو ته خطر دی، نو دا چې په باثباته افغانستان کې د روسيې په ګډون د ګاونډيو او سيمې ټولو هېوادونو ګټې خوندي شي، بايد افغان سوله د يوې ځانګړې اجماع له لارې تر سره شي.

وړانديزونه

روسيه د سيمې ستر سياسي، پوځي او اقتصادي قدرت دی، افغان دولت بايد هڅه وکړي چې د روسيې په ګډون، د سيمې له ټولو هېوادونو سره په موازي ډول دوه اړخيزې او څو اړخيزې اړيکې پراخې کړي. د روسيې په ګډون د سيمې ټول هېوادونه بايد د افغانستان ګټې په پام کې ونيسي او د افغانستان سياسي ثبات او اقتصادي پرمختګ خپل ګډ مسووليت وګڼي او د افغان سولې په تړاو په هره موضوع کې بايد له افغان دولت سره په مستقيم ډول په اړيکه کې شي.

پای

# د سولې هڅې او روان قتل عام؛

## هوايي ځواکونو په بلخ کې په يوه بريد کې د يوې کورنۍ اووه غړي وژلي



د سولې له هڅو سره هممهاله يو ځل بيا په ولايتونو او ولسواليو کې هوايي بريدونو او جګړو زور اخيستی دی. په دې بريدونو کې ملکي مرګ ژوبله لوړه شوې ده. تازه په بلخ ولايت کې د افغان ځواکونو په يوه هوايي بريد کې د يوې کورنۍ شپږ غړي وژل شوي دي. د وژل شوو نږدې خپلوان وايي چې حکومت دې دوی ته ځواب ووايي چې ولې او په څه دليل عام وګړي په نښه کېږي او په لوی لاس د خلکو او حکومت تر منځ واټن رامنځ ته کېږي. په ورته وخت کې پخواني ولسمشر حامد کرزي او ډېرو نورو افغان سياستوالو دغه پېښه غندلې ده.

ورمه شپه شاوخوا شپږ بجې د بلخ ولايت د بلخ ولسوالۍ په بوکې نومې سيمه کې افغان ځواکونو هوايي بريدونه کړي. په دغو بريدونو کې د يوې کورنۍ اووه غړي وژل شوي. په رسنيو کې خپاره شوي انځورونه ختين کورونه ښيي چې د افغان ځواکونو د هوايي بريد له امله وېجاړ شوي دي. د افغان ځواکونو دغه بريد په ټولنيزو رسنيو او عامو وګړو کې توند غبرګونونه پارولي دي. د سيمې اوسېدونکي وايي، په وژل شوو کې شپږ مېرمنې او يو ماشوم شامل دی. د دوی په خبره، په سيمه کې يې طالبان نشته دي، خو لا هم افغان ځواکونه هلته عمليات کوي او په لوی لاس يې د ملکي وګړو کورونه په نښه کړي دي.

د وژل شوو يو نږدې خپلوان لعل محمد وايي، په وژل شويو کې شپږ ښځې او يو ماشوم دی. هغه وايي: «الوتکې راغلې، بمبار يې وکړ او دا خلک يې وژلي دي. خونې يې راغورځولې دي. وژل شوي مو له کنډوالو راوويستل.»


په رسنيو کې خپرې شوې ويډيوګانې ښيي چې ختين کورونه نړېدلي دي، د سيمې خلک په سرو سترګو خپل مړي له کنډوالو راوباسي او د خپلو عزيزان د غم پر ټغر ناست دي. دوی وايي، نه يې له طالبانو سره اړيکه ده او نه هم په دې سيمه کې طالبان شته دي. طالبانو هم ويلي چې د افغان ځواکونو په دې بريدونو کې يې کسانو ته مرګ ژوبله نه ده اوښتې او هوايي ځواکونو عام وګړي بمبار کړي دي. په ورته وخت کې افغان حکومت وايي چې د پېښې سيمې ته يې يو پلاوی استولی دی.

د ۲۰۹ شاهين قول اردو وياند حنيف رضايي په بلخ کې د ملکي کسانو د وژل کېدو او په دې ولايت کې د روانو عملياتو په اړه وويل: «تر اوسه يې نه تاييدولی او نه هم ردولی شم ؛ ځکه چې موږ ته يې په اړه تر اوسه رپوټ نه دی راغلی. موږ يې په اړه څېړنه کوو.»

د سيمې خلکو د وژل شوو کسانو جسدونه د مزارشريف ښار ته راوړي وو. دوی له حکومته د عدالت غوښتنه کوله. د ولايتي شورا مخې ته لسګونو اعتراض کوونکو پر حکومت نيوکه وکړه، چې د خلکو د امنيت پر ځای د خلکو وژنه کوي. د دوی په خبره، حکومت دې د دوی ځواب ووايي، عدالت دې تامين کړي، د پېښې عاملين دې د قانون منګولو ته وسپاري او روانې خونړۍ لړۍ ته دې د پای ټکی کېږدي. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم دغه پېښه غندلې ده. نوموړي پر امريکايي ځواکونو، افغان هوايي ځواکونو او طالبانو غږ کړی چې د عامو افغانانو له وژلو لاس واخلي او روانې جګړې ته د سولې د خبرو پر مټ د پای ټکی کېږدي.

په هوايي بريدونو کې ملکي وګړي داسې مهال وژل کېږي، چې د ښښې نړيوال سازمان په خپلو وروستيو څرګندونو کې د ملکي وګړو پر زياتېدونکې مرګ ژوبله اندېښنه ښودلې وه. دغه ادارې پر طالبانو غږ کړی و چې بايد ارو مرو د سولې په خبرو کې اوربند يا د تاوتريخوالي کمېدل ومني. ابمنستي اينټرنيشنل ويلي، افغانان له بد وضعيته تېرېږي او په دغه هېواد کې تر ټولو مهمه مسئله دا ده چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شي او ارو مرو د سولې خبرې د جګړې د پای ته رسېدو او تاوتريخوالي د کمېدو سبب شي.

# شي جېن پېنګ: د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله د چين وضعيت ترينګلی شوی دی



د چين ولسمشر شي جېن پېنګ ويلي چې په دغه هېواد کې د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله وضعيت ترينګلی شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د کرونا ويروس لومړۍ پېښه د چين د هوبای ولايت په مرکز ووهان ښار کې ثبت شوې ده.

د چين ولسمشر د واکمن کمونيست ګوند د مشرتابه په غونډه کې ويلي، چين په چټکۍ د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله له ناوړه وضعيت سره مخ دی.

د راپورونو له مخې، د دې ويروس له کبله په چين کې لږ تر لږه ۵۶ کسان مړه شوي او ۱۹۷۵ تنه نور ورباندې اخته شوي دي. د دغه هېواد چارواکو ويلي چې ډېری مړه شوي کسان تر پنځوسو کلونو لوړ عمرونه لري.

د چين ولسمشر شي جېن پېنګ چې هڅه کوله د خپل هېواد وګړي ارام کړي، زياته کړې: «موږ به يقيناً وکولای شو چې د دې ستونزې پر وړاندې مبارزه وګټو.»

په ورته وخت کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت هم ويلي هڅې يې پيل کړې څو د کرايي الوتکې له لارې په ووهان کې د خپلې کونسلګرۍ کارکوونکي انتقال کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر اوسه په کرونا ويروس د مړينې ټول خبرونه له چين څخه ورکړل شوي، خو په ورته وخت کې د هغو هېوادونو شمېر هم په زياتېدو دی چې پر دغه ويروس د خلکو د اخته کېدو پېښې په کې ثبت شوې دي.

په امريکا، کاناډا، استرالیا، فرانسه، جاپان، مالیزيا، جنوبي کوريا، تايوان، تايلنډ، ويتنام، سعودي عربستان، سينګاپور او د چين په قلمروونو هانګ کانګ او ماکاو کې هم د دې ناروغۍ پېښې ثبت شوې دي.

ډاکترانو ويلي چې دغه ويروس د کرونا ويروس د پراخې کورنۍ يوه برخه ده، چې په ځينو مواردو کې خفيف علايم لري او په ځينو نورو مواردو کې د والګي په بڼه راڅرګندېږي، چې ټوخی او تبه هم ورسره وي. په سختو حالاتو کې ويروس د انسان د ساه لنډۍ سبب کېږي، د سينه بغل په بڼه هم پرمختګ کوي، چې د انسان د مړينې سبب کېږي.

## د کتــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◙ لیکوال: جان مکسوېل
◙ ژباړن: میراحمد یاد

### دا قانون ولې زرین دی؟




د کزنس خبرې یوه ستونزه روښانه کړې ده. زیاتره خلک په یوه مضمون کې ځکه له سختۍ سره مخ کېږي چې هغه مضمون ورته پېچلی او نه لمسېدونکی ښکاري؛ خو په اخلاقو کې یو کمال دا دی چې نامحسوس شیان محسوسوي. تاسو قانون زده کولو او د فلسفې د توپیرونو سپړنې ته اړتیا نه لرئ. یوازې ځان د یوه بل انسان پر ځای احساس کړئ. ان کوچنی ماشوم هم دا کار کولای شي. نه پکې سختي شته او نه پېچلتیاوې.

موږ دا نه وایو چې په زرین قانون به گنې هر اخلاقي وضعیت سمدستي حل شي. کله کله چې موږ له ځان پوښتنه کوو چې په دې حالت کې باید څه وکړم؟ په دې پوښتنه کې سخته برخه دا ده چې له دې وضعیته به څوک اغېزمنېږي او څه اغېز به پرې کېږي؟ خو که انسان ان په ډېرو پېچلو حالاتو کې هم لږ فکر وکړي، نو یوه حللاره ورته را ایستلی شي.

**۳. زرین قانون تل گټه/گټه وي!**

داسې څوک مو لیدلي چې د خپلې گټې لپاره د بل بایلات اړین بولي؟ دوی هر چا ته د دښمن په سترگه گوري چې باید مات یې کړي. یا همدا خلک د خپلې گټې لپاره د نورو د ځوربېدو په تمه وي. داسې ښکاري چې د (۲۰۰۲ز) د سپتمبر میاشتې د پانگونې د گډ صندوق تر شا هم همداسې فکر دی. د پانگونې مدیران وایي:((دا په هغو شرکتونو کې پانگونه ده چې د خپل عاید ډېره برخه له هغو تولیداتو ترلاسه کوي چې ټولنیز مسئولیت نه مني. مثلاً جواري، تمباکو، الکول، دفاعي وسلې او نور.)) (۱۴)

کارپوهان وایي چې دا ډول پانگونه گټه نه لري او د ټولنیز مسئولیت لرونکو شرکتونو په اندازه گټوره نه ده. (۱۵) د دې له نومه هم روښانه ده چې پانگوال غواړي د نورو خلکو له کمزوریو گټه واخلي. زه حیران یم، که دا مدیران پوه شي چې خلک د دوی د گټو لپاره خپل زیار او هلې ځلې ضایع کوي، نو دوی به څه احساس کوي. که تاسو په زرین قانون ژوند وکړئ، نو ټول به بریالي وي او گټه به کوي. که زه له تا سره هغه چلن وکړم چې له تا یې لرم، نو ته گټه کوې. که ته راسره همداسې چلن وکړې، نو زه یې گټم. په دې کې بایلونکی شته؟

**٤. زرین قانون د لارې مشال دی!**

زرین قانون یوازې ټولو اړخونو ته گټه نه رسوي، بلکې څوک چې پرې عمل کوي، هغه ته هم یو باطني ارزښت لري. ټلویزیوني مبصر ټیډ کوپیل وایي:((په اخلاقي قطب نما تعقیبولو کې باطني ارامتیا پرته ده، دا قطب نما د چا مخ او څېره نه گوري او ټولو ته یوه لار ښیي.)) زه فکر کوم په نړۍ کې زیاتره خلک لارښوونې ته اړتیا لري او زرین قانون دا لاره ښودلای شي. ان که حالات بدل هم شي، دا نه بدلېږي. تاسو یې چې کله کاروئ، سمه او دقیقه لاره درته ښیي او تر ټولو ښه دا چې گټه دررسوي.

په اخلاقي قطب نما تعقیبولو کې باطني ارامتیا پرته ده، دا قطب نما د چا مخ او څېره نه گوري او ټولو ته یوه لار ښیي.

**زرین ځای**

زه په ټول هېواد کې شرکتونو ته وېناوې کوم، په دې لړ کې له ډېرو په زړه پورې خلکو او ښو رهبرانو سره مخ شوی یم. د (۱۹۹۸ز) په یوه سفر کې له داسې یوه کس سره مخ شوم چې په دې دواړو کټگوریو کې راځي. دا کس جیم بلنچارډ نومېده او د یوه شرکت اجراییوي رییس و. دا په پنځو ایالاتو کې د (۳۸) بانکونو سهامي شرکت و او د برېښنایي پیسو د ورکړې په صنعت کې یې (۸۰) سلنه برخه درلوده. په ویبپاڼه کې د دې شرکت نووس سینرجي و. سینرجي د څو جلا عناصرو هغه گډون یا تعامل ته وایي چې پایله یې د دې عناصرو تر مجموعې ډېره وي. (Novus) بیا لوړ کیفیت ته وایي چې په خپله کټگورۍ کې تر ټولو لوړ وي. دا شرکت تقریبا تر (۱۸) میلیاردو ډېره پانگه او تر نهه زره ډېر کارکوونکي لري او د لوړو او ټیټو شاخصونو یوه ټولگه ده. (۱٦)

که سوداگریز خبرونه تعقیبوئ، نو د دې شرکت نوم به مو اورېدلی وي. په (۱۹۹۸ز) کې فورټون مجلې په امریکا کې د کار لپاره د سلو غوره شرکتونو لیست خپرول پیل کړل. په (۱۹۹۹ز) کې دا شرکت په لومړۍ درجه کې و. یاد شرکت به هر کال په دې لیست کې و. په(۲۰۰۳ز) کې چې مجلې کوم لیست خپور کړ، یاد شرکت پکې د هېواد په کچه نهم راغلی و.

زه خپل کاروبار لرم، ما غوښتل پوه شم چې یو شرکت څنگه د ټولې امریکا په کچه کار ته تر ټولو ښه او مناسب شرکت کېدای شي. په دې خاطر مې له جیم سره خبرې وکړې. هغه راته وویل چې څو کاله مخکې چې په (۱۹٦۵ز) کې له حقوقو فارغ شو، عمر یې نهه ویشت کاله و. همغه وخت د کولمبو بانک او ټرسټ شرکت مشر شو. د کلونو په تېرېدو یې کاروبار پیل او پراخه کړ؛ خو په (۱۹۹۰ز) کې یې وویل چې ده شخصا د کاروبار لپاره کوم اخلاقي اصول او ارزښتونه کارولي دي، دا باید د پراخېدونکي سازماني کلتور یوه برخه شي، ما ته یې وویل:((موږ باید دا نهادینه کړي وای، موږ باید دا اجرا کړي وای او موږ باید دا تقویه کړي وای.)) دا د سترو بدلونونو په مانا وه، په دغو کلونو کې ډېرې زیاتې تگلارې رامنځته شوې، لکه د ترفیع سیستم، د معاشونو مدیریت او د بیاکتنې او ارزونې پروسه.

**دوام لري...**

# مالیزیا

حشمت الله نوري



مالیزیا په جنوب- ختیځه اسیا کې د جنوبي چین د سیند او اندونیزیا تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۱- ٦ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۰۰-۱۰۵ درجو په مینځ کې موقعیت لري، چې پراخوالی یې ۱۲۷۳۱۷ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ٦۰م لوی هېواد دی.

د مالیزیا شمال ته تایلنډ، جنوب ته مالاکا سمندري لار، ختیځ ته د جنوبي چین سیند او لوېدیځ ته یې د مالاکا سمندري لار پرته ده.

د مالیزیا هوا لنده او سمندري ده، دا ځکه چې دغه هېواد د استوا کرښې ته نږدې پروت دی، نو یې هوا توده او اورښت یې زیات دی.

دغه هېواد د جنوب- ختیځې آسیا تر ټولو جنوبي هېواد دی، دغه هېواد دوه بېلې برخې لري، لومړی یې د مالیزیا ټاپووزمه چې د تایلنډ په جنوب او د مالاکا سمندري لارې په ختیځ کې موقعیت لري او مساحت یې ۱۳۱۵۸۸ کیلومتره ته رسېږي او دویمه هم د اندونیزیا د برنیو د ټاپو په شمال او د جنوبي چین د سیند په جنوبي برخه کې د ساراواک او سبا ایالتونه دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د کوالالمپور ښار دی او ټولټال څه کم ۳۳ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۸٦ کسان ژوند کوي.

د مالیزیا ۷۵ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۲۵ سلنه هغه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې د دریو ماشومانو درلودو حق لري.

دغه هېواد د اداري وېش له پلوه پر دیارلسو ایالتونو باندې وېشل شوی دی. مراه، کوالاسوت، الوراستار، اېپوه کلانک، رانوب او تای پیک یې مهم او لوی ښارونه دي.

د مالیزیا اساسي قانون د ۱۹۵۷ ز کال د اگسټ په ۳۱مه تصویب شوی او په ۲۰۰۷ ز کال کې ځینې بدلونونه په کې راغلي دي. د دې قانون له مخې، د دغه هېواد نظام مشروطه پاچایي دی. د مالیزیا نهه ایالتونه خپل میراثي پاچایان لري، د دغه هېواد د څلورو ایالتونو والیان د حکومت له خوا ټاکل کېږي. د مالیزیا د نهه گونو ایالتونو پاچایان له خپله منځه یو پاچا د پنځو کلونو لپاره د مالیزیا د پاچا په توگه ټاکي. په څلورو نورو ایالتونو کې سبا او ساراواک خپل ځینې پخواني حقوق محفوظ ساتلي دي، خو بهرنۍ اړیکې، دفاعي چارې او کورنی امنیت یې د فدرالي دولت پر غاړه دی.

د مالیزیا لومړی وزیر محاضر بن محمد دی، د قانون له مخې، دغه پاچا پنځه کاله کار کوي او بیا نوی واکمن غوره کېږي. په دغه هېواد کې هغه څوک چې گوند یې د هېواد په ولسي جرگه کې اکثریت څوکۍ وگټي، د لومړي وزیر په توگه ټاکل کېږي. په مالیزیا کې د کابینې وزیران د لومړي وزیر له خوا د ولسي جرگه له منځه د پاچا په مشوره غوره کېږي.

د دغه هېواد پارلمان دوې جرگې لري، انتصابي سنا یا د مشرانو جرگه چې له ۷۰ غړو څخه یې ۴۴ د پاچا او ۲٦ د ایالتونو له خوا ټاکل کېږي او بله ولسي جرگه چې ۲۲۲ غړي یې د پنځو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کېږي.

په مالیزیا کې د رایې ورکولو سن ۲۱ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي. د دغه هېواد په ولسي جرگه کې ۱۳۷ څوکۍ د یووالي، ۷٦ د مخالف او ۹ د خپلواکه ایالتونو دي.

د مالیزیا حقوقي نظام پر انگلیسي قوانینو ولاړ دی، د دغه هېواد لوړ قضایي ارگان ستره محکمه ده چې قاضیان یې له لومړي وزیر سره په مشوره د پاچا له خوا ټاکل کېږي.

لیم گنگ یاک گوند، لبرال ولسواک گوند، د ولسواک عمل گوند او د خلکو د عدالت گوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

دغه هېواد د ۱۹۵۷ ز کال د اگسټ په ۳۱مه له انگلستان څخه خپلواکي اخیستې او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځ په نوم پکې نمانځل کېږي.

وروسته له هغې چې یوه لسیزه د مالیزیا ناخالص کورني تولید هر کال په منځنۍ توگه ۸ سلنه وده درلوده، په ۱۹۹۸ ز کال کې سیمه ییز مالي بحران زیانمن کړ او ناخالص کورنی تولید ۷ سلنه ټیټ شو. اټکل کېده چې د مالیزیا اقتصاد به د ۱۹۹۹ ز کال په لومړۍ نیمایي کې همدا ناوړه حالت ولري او رسمي احصاییې د صادراتو کمزورتیا ښکاره کړه. په هغو کلونو کې د مالیزیا لومړي وزیر ډاکتر مهاتیر محمد چې د آسیا او نړۍ له لویو شخصیتونو څخه و او ډېر تالیفات لري، د خپلو ملي پیسو د ارزښت د ساتلو کنټرول یې پیاوړی کړ، غټه پراختیایي بودجه یې منظور کړه، د وزگارتیا د کمولو لپاره کورنۍ او بهرنۍ سرچینې یې پیدا کړې، د ډاکتر مهاتیر محمد هڅو ښه پایله درلوده او دغه هېواد یې د گړندي پرمختگ لارې ته برابر کړ. له دې مخکې مالیزیا منځنی عاید درلود او اومه صنعتي توکي به یې جوړول، خو په نوي پړاو کې د مالیزیا د اقتصاد ټولو سکټورونو وده وکړه، د صادراتو پراختیا ته پاملرنه وشوه او د لومړي ځل لپاره د دغه هېواد په صادراتي اقلامو کې د برېښنایي وسایلو او ماشینونو نومونه هم زیات شول.

د دغه هېواد اقتصاد د امریکا له متحده ایالاتو، چین او جاپان سره تړلی دی، ځکه دې هېوادونو په مالیزیا کې ډېره پانگونه کړې او د دغه هېواد د صادراتي مالونو پېرودونکي دي.

د تېلو ایستل او چاڼ، ربړ، برېښنایي سامانونه، کمکي نقلیه وسایط، طبي وسایط، کرنیز ماشینونه، پرزې، فلزات او قلعي، لرگي او لرگین شیان، د خوراکي توکو پروسس، استهلاکي توکي، کیمیاوي سره، ټوکران، کاغذ، قرطاسیه او سپورټي وسایل د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د مالیزیا شپږ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، د دغه هېواد پاتې خاوره ځنگلونو، غرونو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۱۴ سلنه خلک د کرنې، ځنگلونو او کب نیولو په برخو کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

ربړ، غوړي، وریجې، حبوبات، مرچ، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هگۍ او واښه د مالیزیا مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

د امریکا متحده ایالات، سنگاپور، جاپان، تایلنډ، هانگ کانگ او چین د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي. دغه هېواد څه کمې ۲۰۰ تجارتي بېړۍ او ۱۱۸ هوایي ډگرونه لري چې ۴۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د مالیزیا د ټلیفون کود ۰۰٦۰ او د انټرنېټ کود یې بیاMY دی، چې ټولټال یې ۱٦ میلیونه کسان ورته لاسرسی لري.

په دغه هېواد کې د رسنیو دولتي شرکت دوه او خصوصي برخه څلور ټلوېزیونونه لري، چې ټول په هېواد کې لیدل کېږي.

مالیزیا د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پرله پسې ډېرښت له امله، د آسیا یو پرمختللی هېواد بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهېږي. په مالیزیا کې زده کړه د ۷- ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

په مالیزیا کې له میلاد څخه ۵۰۰۰ کاله مخکې د انساني ژوند نښې نښانې لیدل شوې دي، داسې ښکاري چې هغه وخت داسې خلک دلته مېشت وو چې په ځنگلونو کې یې ژوند کاوه او ډېر ساده خواړه او جامې یې درلودل. له میلاد څخه ۲۰۰۰ کاله مخکې شاوخوا له جنوبي چین څخه ځینې چینایان د ملایا د ټاپووزمې؛ مالیزیا، اندونیزیا او فلیپین د اوسنیو خاورو پر لور وخوځېدل، ورو ورو هلته مېشت شول او له اوسپنې څخه د کار اخیستنې او کرنې دودونه یې هلته ولېږدول. له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې، د ماله د قومونو خلک دې ملک ته وکوچېدل او ورو ورو یې خپله واکمني جوړه کړه، تر هغه وروسته له هند او چین سره د مالایا د ټاپووزمې د سیمه ییزو مشرانو د سوداگرۍ اړیکو په دغه هېواد کې د چیني او هندي ادیانو فرهنگ خورولو ته لار پرانیستله.

له میلاد څخه وروسته په لومړنیو پېړیو کې د سیند په دره کې د پاچایي دولت جوړ شو، چې د هندي کلتور تر اغېز لاندې و. له دې وروسته هم د مالایا سیمه ییز واکمنان د هند، چین او اندونیزیا تر اغېز لاندې وو. په ۱۳مه او ۱۴مه پېړۍ کې د اسلام مبارک دین مالایا ته ورسید، په ۱۵مه پېړۍ کې د مالایا د ټاپووزمې په جنوبي برخو کې د مالاکا د سلاطینو خپلواکه دولت جوړ شو، عربي ژبې او لیکدود د سانسکریټ او اسلام د بوداییزم ځای ونیو. د ۱٦مې پېړۍ په پیل کې اروپایانو د هند د سمندر په سیمه کې د عربي سوداگرو د کار د مخنیوي لپاره هند او چین ته لاس اوږد کړ. په ۱۵۱۱ ز کال کې د پرتگال نایب السلطنته د مالاکا بندر ونیو، په سیمه کې یې د چین د وریښمو او خاورینو لوښو، د هند د ټوکرانو او د ملوک ټاپوگانو د داروگانو انحصار تر لاسه کړ او په دغه بندر کې د پرتگالیانو لومړنۍ اډه جوړه شوه. په ۱۵۹۵ ز کال کې هالنډیانو د جوهور له واکمن سره لاس یو کړ، پرتگالیان یې له مالاکا څخه و ایستل او د هغه تړون له مخې چې د جوهور له واکمن سره په اوسني جاکارتا کې یې لاسلیک کړ، دوی له آسیایانو او اروپایانو سره د هر راز سوداگریزو اړیکو پالل منعه کړل او ټوله اقتصادي راکړه ورکړه یې په خپل لاس کې ونیوه.

د افغانستان او مالیزیا تر منځ لومړنۍ نااستوگنې سیاسي اړیکې په ۱۹۴۸ ز کال کې جوړې شوې، هغه وخت په ډیلي کې د افغانستان لوی سفارت د مالیزیا له چارواکو سره هم اړیکې ساتلې.

په ۲۰۰۱ ز کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او ولسمشر حامد کرزي دوه ځلې مالیزیا ته سفر وکړ.

له افغانستان څخه تر مالیزیا پورې د هوا له لارې فاصله ۴۸۳۷ کیلومتره او همدا راز د کابل او کوالالمپور ښارونو تر مینځ د وخت توپیر ۳:۳۰ ساعته دی.

همیانی

# تل د زده کړې په لټه کې اوسئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

له زده کړې لاس مه اخلئ، که نه ژوند به درته سخت وي. «جان» له هغه وروسته چې د نایجیریا په سولیجه ایالت کې یې ښوونځی بشپړ کړ، نو د هېواد په یوه معتبر پوهنتون کې یې د ډاکټرۍ او جراحۍ په برخه کې خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړه. دی په خپلو زده کړو کې ډېر جدي و او خپلې موخې ته ژمن و. ان یوه ورځ به یې هم غیرحاضري نه کوله. له اوو کلونو لوړو زده کړو وروسته، هغه په خورا لوړو نمرو فارغ او یو تکړه ډاکټر ترې جوړ شو، خو له دې سره سره یې بیا هم له مطالعې لاس وانه خیست. نوموړي همداسې خپلې مطالعې او په اړوند برخه کې نویو څېړنو ته ادامه ورکړه. یوه ورځ یې کوچنی ورور د هغه لیدو ته ورغی، ګوري چې مشر ورور یې اوس هم غرق په مطالعه کې تللی دی او درس وایي. هغه به داسې ژوره مطالعه کوله چې فکر به دې کاوه سبا کومه سخته ازموینه لري. کوچني ورور یې ورته وویل: «جانه! ولې سره له دې چې فارغ شوې او کومه ازموینه هم په مخ کې نه لرې، خو بیا هم داسې په مطالعه کې غرق تللی یې. ښه ده چې لږ دمه وکړې!»

جان ځواب ورکړ: «دا خو سمه ده چې کومه ازموینه په مخ کې نه لرم، خو که غواړم چې په دې سیمه کې تر ټولو غوره ډاکټر اوسم، نو خپل معلومات باید هره ورځ زیات او نوي کړم. زه د دې لپاره مطالعه کوم چې پر ډېرو نورو شیانو باندې پوه شم او زده یې کړم.»

فکر مه کوئ چې په ژوند کې کومې ځانګړې مرحلې ته رسېدلي یاست او یا دا چې فارغ شوی، نور نو له زده کړو او مطالعې خلاص یاست. لطفاً هېڅکله هم داسې کومه تېروتنه ونه کړئ، ځکه زده کړې د مرګ تر ورځې پورې باید ادامه پیدا کړي. تاسو کولای شی له هر چا او هر شي زده کړه وکړی. ان د سړک پر سر له سوالګر، له آرایشګر، له مور او پلار، په مدرسه کې، له کتاب څخه، له ټلوېزیون څخه، له طبعیت او خلاصه له هره ځایه چې وي، یو نوی شی زده کړئ. دا مو باید په یاد وي چې یو هوښیار سړی کولای شي له یوه کم عقل کس څخه یو شی زده کړي، خو کم عقل بیا نه شي کولای له یوه هوښیار کس څخه کوم شی زده کړي.

هېڅکله هم مه مغروره کېږئ چې ګواکې تاسو پر هر څه پوهېږی او ډېره پوهه لری، بلکې تل د زده کړو په لټه کې اوسئ. ځکه پروفیسران هم هره ورځ مطالعه کوي او خپل معلومات زیاتوي. زده کړې هېڅ پای نه لري. داسې فکر مه کوئ چې د څو کتابونو په لوستلو سره او په ازموینه کې تر بریالي کېدو وروسته نور نو اړ نه یاست چې زده کړه وکړی او مطالعه وکړی. په اصل کې دا ژوند داسې دی، له کله نه چې پیدا کېږی، بیا د مرګ تر ورځې پورې باید زده کړه پکې وکړئ.

دا په تاسو پورې اړه لري چې غواړی د نورو خلکو له تجربو زده کړه کوی او که خپله یې تجربه کوی. امیشاپاتل وایي: « ژوند یاني تکامل. هغه څه چې د نورو په اند تېروتنه ده، کېدای شي زما په ژوند کې هم پېښ شي. ان که نورو له ما سره خیانت کړی، زړه مې یې مات کړی دی، زما په اړه یې قضاوت کړی او په تیټه سترګه یې راته کتلي، خو ما له دې ټولو زخمونو یو شی زده کړي دي. مورږ انسانان یو او له انسان سره تېروتنه مله ده. توپیر مو تر منځ یوازې دومره دی چې ځینې انسانان له خپلې تېروتنې څخه تجربه اخلي.»

هېڅ پوهه بې ارزښته نه ده. تاسو چې هره ورځ کوم څه زده کوی، یوه ورځ مو په درد خوري. ژوند لکه ښوونځی داسې دی او تجربه بیا زموږ د استاد په څېر ده. نو هڅه وکړئ چې د ټولګي یوه جلسه هم در څخه پاتې نه شي او که ګډون پکې ونه کړی او یو څه زده نه کړی، نو کېدای شي په ازموینه کې ناکام شی.

داسې فکر مه کوئ چې تاسو په طب کې تخصص لری او په اقتصادي برخه کې څه نه شی زده کولی. ویې ازمویئ، له خلکو او نورو فرهنګونو هم یو شی زده کړئ. دا کېدای شي ستاسو لپاره د نویو ملګرو د پیدا کېدو دلیل هم شي. کله چې له خلکو سره خپلې نظریې شریکوی او یا د دوی نظریې اوری، کولای شی ډېر څه ترې زده هم کړی. دا هغه د ملګرتیا مفهوم هم بیانوي.


کتاب لوستل هم د زده کړو یوه تر ټولو غوره لار ده. نو له همدې کبله زه خپلو ټولو مراجعینو ته د کتاب لوستلو سپارښتنه کوم. د زده کړو یوه تر ټولو غوره ښېګڼه دا ده چې هېڅوک نه شي کولای درڅخه وایې خلي. که تاسو پیسې او یا نوره شتمني ولری، کېدای شي یوه ورځ یې څوک در څخه غلا کړي او یا یې درڅخه واخلي، خو پوهه او زده کړې مو هېڅکله نه شي درڅخه اخیستی.

ګاندي ویلي: « داسې ژوند وکړئ چې ګواکې سبا مړه کېږی او داسې زده کړه وکړئ، چې ګواکې ټول عمر ژوندي یاست .»

له زده کړو او مطالعې سره مو مینه زیاته کړئ. که تاسو دغه څه عملي کړی او له زده کړو سره مو مینه زیاته شي، هېڅکله به وروسته هم پاتې نه شی. زده کړې او مطالعه مو باید د ژوند یوه برخه او لومړیتوب وي. د شپې تر هغه وخته مه ویده کېږئ، څو مو چې یو نوي شی نه وي زده کړي. هر هغه چا چې له زده کړو لاس واخیست، پوه شئ چې زاړه شوي دي. دوی که شل کلن دي او یا هم اتیا کلن او هغه څوک چې زده کړو ته ادامه ورکوي، هغوی ځوانېږي. په ژوند کې تر ټولو مهم کار د ذهن تازه ساتل دي او ذهن یوازې پر زده کړه او مطالعې باندې تازه ساتل کېږي.

مخکې له دې چې دغه مقاله پای ته ورسوو، میندو او پلرونو ته دا پیغام ورکوم چې لطفاً د خپلو کوچنیو اولادونو ذهنونه تر هغه په زده کړو پورې مه محدودوئ، په کومه کچه چې تاسو پوهه او زده کړې لری. دوی یوازې تر هغه څه پورې مه محدودوئ چې تاسو په ښوونځي کې زده کړي دي. دا هغه څه دي چې زه له ځینو بېکاره تدریسي سیستمونو سره مخالف یم. دوی یوازې پخواني او زاړه علمي مسایل تدریسوي او په دې برخه کې کوم نوښت نه کوي او په نصاب کې نوي شیان نه ور زیاتوي. زده کړې، نوښتونه او په نصاب کې نوي شیان ور زیاتول سره په اړیکه کې دي. تاسو وینئ چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده. ډېر داسې نوي شیان دي چې شل کاله مخکې یې چا په اړه فکر هم نه کاوه، خو اوس باید زده شي. بېرون ته ووځئ او نوي شیان زده کړئ. تر هغه کور ته مه را ګرځئ چې نوي شی مو نه دي زده کړي. زه مو له همدې ځایه څارم.

## پنټاګون: تېر میلادي کال په افغانستان کې لسګونو امریکایي سرتېرو ته مرګ ژوبله اوښتې



د امریکا دفاع وزارت په یوه تازه راپور کې ویلي، چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې په افغانستان کې لس امریکایي سرتېري وژل شوي او ۹۷ نور ټپیان شوي دي.

پنټاګون په خپل تازه راپور کې ویلي، چې د ۲۰۱۸ میلادي کال له منې وروسته، د یوه پلان له مخې افغان او امریکایي ځواکونو پر طالبانو له دې امله فشار زیات کړ، چې د سولې مذاکراتو ته غاړه کېږدي.

راپور زیاتوي چې د پلان پر بنسټ، افغان ځواکونو ته امکانات په لاس کې ورکړل شول، څو د جګړې د ابتکار عمل په لاس کې واخلي او پر طالبانو دوامدار پوځي فشار زیات کړي.

په راپور کې راغلي، طالبان د دغه فشار له امله په ۲۰۱۹ میلادي کال کې ونه توانېدل، چې د کوم ولایت مرکز ونیسي.

په ورته وخت کې د ملي امنیت شورا ویاند ویلي، تېر کال افغان ځواکونو ۹۸ سلنه خپلواک عملیات کړي چې موخه یې د طالبانو له خوا د لاندې شویو سیمو بېرته نیول وو.

د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل ویلي: «تېر میلادي کال افغان ځواکونو په مخالفینو باندې فشارونه زیات کړي وو، هدف دا و چې له طالبانو ځینې سیمې ونیول شي او دومره کمزوري شي، چې د برید وړتیا له لاسه ورکړي، حکومت د سولې لپاره هم کار کړی؛ ځکه سوله لومړیتوب لري، افغان ځواکونو ۹۸ سلنه خپلواک عملیات کړي او په پاتې دوه سلنه کې د بهرنیانو ملاتړ ورسره و.»

په دغه تازه راپور کې راغلي، چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې پاکستان په افغان سوله کې محدود رول درلود، خو حقاني شبکه او طالبان اوس هم په پاکستان کې د امن خوندي ځایونه لري.

راپور زیاتوي، طالبان، داعش او القاعده اوس هم د ګواښ په توګه پاتې دي، چې امریکا او متحدینو ته یې خطر پېښولای شي.

په راپور کې یادونه شوې، چې د امریکا دفاع وزارت د معلوماتو پر بنسټ، یوازې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې لس امریکایي سرتېري وژل شوي او ۹۷ نور ټپیان دي.

پنټاګون دغه راز ویلي چې په ټوله کې د ۲۰۰۱ میلادي کال د اکټوبر له لومړۍ چې امریکا په افغانستان کې پوځي عملیات پیل کړل، د ۲۰۱۹ میلادي کال د اکټوبر تر ۳۰مې پورې په افغانستان کې ۱۹۰۱ امریکایي سرتېري وژل شوي او ۲۰٦٦۴ نور ټپیان شوي دي.

## سره میاشت: د روغتیایي اسانتیاوو د کموالي له کبله د زړه پر سوري اخته ۳۰ سلنه ناروغان مړه کېږي

د افغان سرې میاشتې ټولنې ویلي، په هېواد کې د روغتیایي اسانتیاوو د کموالي له کبله، د زړه پر سوري اخته شاوخوا ۳۰ سلنه ناروغان مړه کېږي.

د یادې ټولنې چارواکو ویلي چې د هېواد په کچه د زړه پر سوري د اخته ناروغو ماشومانو نوملړ شاوخوا ۵۰۰۰ ته رسېدلی، خو د محدودو روغتیایي امکاناتو د نشتوالي له امله، هر کال د دغو ناروغانو ۳۰ سلنه یې مړه کېږي.

د دوی په خبره، د دې لپاره چې د دغو ماشومانو درملنه سربېره په هېواد کې د ننه په بهر کې هم پراخه او ګړندۍ شي، هڅې یې چټکې کړې چې دغه ناروغان د درملنې لپاره هندوستان ته ولېږدوي.

د دغې ټولنې د روغتیا رییس سلیم بهره مند ویلي، اوس هره ورځ له ۱۰ تر ۱۵ پورې د زړه پر سوري اخته ناروغ ماشومان د دوی د کورنیو له خوا دوی ته د وړیا درملنې په خاطر مراجعه کوي.

هغه ویلي: «درې- څلور روغتونونه په افغانستان کې شته چې زموږ عادي کیسونه اخلي، خو کوم چې له عادي اندازې نه پورته دي، اړ یو چې د هند روغتون ته یې ولېږو، په ټوله کې تر اوسه موږ په هېواد کې د ننه او بهر د شاوخوا لسو زرو او شپږو سوو ناروغانو درملنه کړې، خو اندېښنه مو دا ده کله چې د دوی نوبت را رسېږي، ۳۰ فیصده د انتظار په حالت په کور کې مري.»

هغه زیاته کړې، د دې لپاره چې د زړه پر سوري اخته ناروغو ماشومانو درملنه په هندوستان کې نوره هم ګړندۍ او پراخه شي، تېره ورځ د افغان سرې میاشتې د ټولنې او کام ایر هوایي شرکت تر منځ یو تړون لاسلیک شو.

د دغه تړون له مخې به کام ایر هوایي شرکت هند ته د زړه پر سوري اخته ناروغو ماشومانو په لېږدولو کې یو لړ اسانتیاوې رامنځ ته کړي.

د دغه شرکت د سوداګرۍ د برخې مسوول سلیمان عمر ویلي: «موږ به د زړه پر سوري له اخته ناروغانو سره هند ته د دوی د رسولو په برخه کې مرسته وکړو، د ناروغ ټېکټ به وړیا وي او څوک چې ورسره سفر کوي، ټېکټ به ۵۰ فیصده تخفیف ولري، د تړون موده درې کاله یانې له ۲۰۲۰ نه تر۲۰۲۳ پورې ده.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۸۵ |
| € | ۸۴,۷۰ |
| Rp. | ۴۸٦ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې اوومه | د ۲۰۲۰ د جنورۍ ۲۷مه | ۵۰۳یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ۹ | ۱۲ | ۹ | ۱٦ | ۱۰ |
| -۹ | -۲ | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰٦:۵٦ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیګر ۰۲:۵٦ | ماښام ۰۵:۱٦ | ماخوستن ۰٦:۴۳

## نړۍ




## راپورونه: په ترکیه کې د وروستي زلزلې له امله د وژل شویو کسانو شمېر ۳۵ ته رسېدلی



د راپورونو له مخې، د ترکیې مرستیال ولسمشر فواد اوکتای ویلي چې د دغه هېواد په وروستي زلزله کې د وژ ل شویو کسانو شمېر ۳۵ ته رسېدلی دی.
دا په داسې حال کې ده چې تېره جمعه د ترکیې په الازیغ ایالت کې د ریښتر په حساب ٦.۸ زلزلې خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه واړول.
اوکتای دغه راز ویلي چې په دې پېښه کې سلګونه نور کسان ټپیان شوي او ۴۵ یې د ژغورونکو ډلو له خوا ژغورل شوي دي.
په ورته وخت کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان هم دې سیمې ته د خپل سفر پر مهال ویلي وو چې ډېر ژر به بند پاتې خلک وژغورل شي. د دغه هېواد د بېړنیو او طبیعي پېښو پر وړاندې اداري ویلي چې د دې زلزلې مرکز چې سیوریجه ښار و، ډېرې نورې سیمې هم لړزولې دي.
بلخوا سلګونه کورنۍ چې د زلزلې له امله یې کورونه نړېدلي، د محصلینو لیلیو او سپورتي مرکزونو ته یې پناه وړې ده. د ترکیې د چاپېریال ساتنې وزیر ویلي، چې په دوو ولایتونو کې د زلزلې د سختو ټکانونو له امله ۳۰ کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي دي.

## مارک ایسپر: شمالي کوریا یوځل بیا د اوږد واټن ویشتونکو توغندیو د جوړولو هڅې پیل کړې دي

د امریکا دفاع وزیر مارک اېسپر ویلي چې شمالي کوریا د اوږد واټن ویشتونکو اټومي توغندیو د جوړولو هڅې پیل کړې دي.
هغه ویلي: «شمالي کوریا یوځای بیا هڅې پیل کړې چې د اټومي وسلو پروګرام پراخ کړي. موږ د هغوی له اوسنیو هڅو خبر یو، دوی هڅه کوي چې اوږد واټن ویشتونکې اټومي وسلې تر لاسه کړي.»
دا په داسې حال کې ده چې د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ امریکایي حکومت په دې وروستیو کې هڅه کوله، چې له اټومي وسلو څخه د کوریا ټاپووزمې د پاکولو لپاره له شمالي کوریا سره یوې هوکړې ته ورسېږي، خو دغه هوکړه وروسته له هغې ناکامه شوه، کله چې پیونګ یانګ پر واشنګټن تور ولګاوه چې په روانو خبرو کې رښتینی نه دی.
شمالي کوریا ویلي، دوی به هغه مهال خپل اټومي پروګرام لغوه کړي کله چې د امریکا له لوري پرې ټول اقتصادي بندیزونه لرې شي.
په ورته وخت کې د امریکا دفاع وزیر دغه راز له شمالي کوریا غوښتي چې د خبرو مېز ته بېرته راوګرځي او د هغه په خبره، د دواړو هېوادونو تر منځ روان کړکېچ یوازې د خبرو له لارې هوارېدای شي.


## برای نخستین‌بار مرکز آزمایش «دی‌ان‌ای» در طب عدلی افغانستان فعال شد



برای نخستین‌بار دیروز مرکز آزمایش «دی‌ان‌ای» در طب عدلی افغانستان فعال شد.
این مرکز، پیش از چاشت دیروز از سوی عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه، فیروزالدین فیروز، وزیر صحت عامه و مقام‌های دیگر حکومت گشایش یافت.
این مرکز به هزینهٔ پنجاه میلیون افغانی ساخته‌است و متخصصان داخلی آزمایش‌ها را انجام می‌دهند.
این در حالیست که پیش از این در افغانستان چنین مرکزی وجود نداشت و دی‌ان‌ای بیماران و متهمان و قربانیان حمله‌های تروریستی برای آزمایش به بیرون از افغانستان فرستاده می‌شدند. فیروزالدین فیروز، وزیر صحت عامه گفته است: «این مرکز به خاطر این است که تفکیک کند بین کسی که بی‌گناه است و کسی که گناه‌کار است. این مرکز می‌تواند نمونه‌های انسان‌هایی را که در انفجار و انتحار و حوادث طبیعی ازبین می‌روند، شناسایی کنند.»
رئیس اجرائیه در حالی‌که ایجاد این مرکز را در تأمین عدالت حیاتی می‌داند، اما بر استقلالیت این نهاد تأکید ورزید: «اگر در این‌جا هم مداخله صورت گرفت، موضوع خراب می‌شود. مداخله در این بخش، از هیچ منبع، از هیچ ارگان نباید تحمل شود.»
دی‌ان‌ای، آزمایش صحی است که بربنیاد آن هویت جنیتیکی و ارثی یک فرد مشخص می‌شود و در کشف جرایم نقش برجسته دارد.
نور حبیب جلال، معاون لوی څارنوالی بیان داشت: «به کمک این مرکز، ما می‌توانیم عدالت را تأمین کنیم و قضاوت سالم صورت بگیرد.»
مرکز طب عدلی در سال ۱۳۵۹ ایجاد شد، اما تاکنون قادر نبود که آزمایش‌های دی‌ان‌ای را انجام دهد.

## ژوند


## ګازرې خامې که پخې ګټې لري؟



ګازرې د خپل ارزښت له کبله، نړیواله ورځ خپله کړې او د اپرېل څلورمه اوس د روسیې، فرانسې، چاپان او ایټالیا په ګډون په نورو هېوادونو کې هم د ګازرو د نړیوالې ورځې په توګه نمانځل کېږي. د دې ورځې له نمانځلو څخه یې موخه د ګازرو د اهمیت څخه د خلکو خبرول دي. ګازرې چې هر ډول وخوړل شي، روغتیا ته ګټورې دي. د ګازرو اوبه، جوس، سابه، سوپ او نور ټول ګټه لري، خو اصلي پوښتنه دا ده چې د ګازرې کوم ډول یې ډېره فایده لري؟ (خامه (اومه) که په غوړیو یا اوبو کې پخه شوې؟) ډاکتران وایي چې په غوړیو کې پخې شوې ګازرې او یا هم په اوبو کې جوش شوې ګازرې د خامو په پرتله ۳۹ سلنه ډېره ګټه لري او د انسان پر بدن خورا ښه اغېز کوي. ګازرې پوستکی روغ ساتي، د غذا په هضم کې مرسته کوي، وینه پاکوي، غاښونه روغ ساتي، ټپ ژر ښه کوي او پړسوب یا التهاب له منځه وړي، د وینې فشار نورمال ساتي، د سرطان ناروغۍ خطر کموي، د سترګو دید زیاتوي، حافظه قوي کوي او د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي.

## مالي ستونزې د بدن دردونه پیدا کوي

په امریکا کې په یوه څېړنه کې راغلي، هغه خلک چې له اقتصادي ستونزو ځورېږي، د وجود په دردونو اخته کېږي. د څېړنې موندنې ښیي، چې اقتصادي ستونزې په مستقیم ډول د ژوند کولو پر وړاندې احساسات زیانمنوي. غربت او مالي ستونزې د وجود دردونه پیدا کوي او د درد پر وړاندې د شخص حوصله هم له منځه وړي. د څېړونکو په باور، اقتصادي ستونزې د تشویش، وېرې او روحي فشار لامل کېږي. دا ټول په وجود کې د بېلابېلو دردونو لامل کېږي. په څېړنه کې دغه راز موندل شوي چې له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان خلک تر بل هرچا زیات درد اراموونکي درمل خوري. په اروپا کې د زړه ډاکټرانو ټولنې په یوه څېړنه کې ثابته کړې، چې مالي



ستونزې د شدید سټرېس لامل ګرځي او دغه چاره د زړه د حملو کچه ۱۳ سلنه لوړوي. د دې څېړنې پایلې د جنوبي افریقا د زړه ډاکټرانو په کلنې کنفرانس کې، اعلان شوې. د څېړنو پایلو ثابته کړې، هغه کسان چې مالي ستونزې لري، د زړه د حملې ګواښ یې شپږ سلنه دی، خو هغه کسان چې بیا له سختو مالي ستونزو سره مخ دي، دغه ګواښ یې ان ۱۳ سلنه ښودل شوی دی.

خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بډایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانې او سفارتونه پرانېستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړیني دي.
د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af